# زما او د دنیا سره څه دي، په دنیا کې زما بېلګه د هغه سپور لاروي په څېر ده چې د یوې ونې د سیوري لاندې دمه شي، بیا یې پرېږدي او ترې لاړ شي

د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په پُزي ویده شو، نو کله چې راپاڅېده په ړچو کې یې د پُزې نښې پاتې شوې وې، نو مونږ وویل چې اې د الله رسوله، که یو نرم توشک مو درته چمتو کړی وی، هغه وفرمایل: «زما او د دنیا سره څه دي، په دنیا کې زما بېلګه د هغه سپور لاروي په څېر ده چې د یوې ونې د سیوري لاندې دمه شي، بیا یې پرېږدي او ترې لاړ شي».
[صحیح دی] [الترمذي او ابن ماجه روایت کړی دی]

عبد الله بن مسعود رضي الله عنه یادونه کوي چې نبي صلی الله علیه وسلم په یو پُزي ویده شو، نو راپاڅېده حال دا چې پُزي یې د ړچو په پوستکي کې چاپونه پرېښي و، نو مونږ وویل: ای د الله رسوله! که یو فرش (توشک) مو درته چمتو کړی و نو لدې به ښه وه چې پر دې زیږ پُزي ویده شي، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: زه د دې دنیا سره هېڅ مینه او محبت نه لرم چې زه پکې لیوالتیا ولرم، زما حالت او په دې دنیا کې پاتې کېدل د هغه سپور سړي په څېر دي چې د ونې د سیوري لاندې دمه شي، بیا یې پرېږدي او ترې ځي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65814

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee